# د پښتو کلتوري او تهذيبي عکسونه د ټپې په هنداره کښې

## THE CULTURAL AND CIVILIZATIONAL EMBLEMS IN TAPPA

Dr. Jahan Alam*

**Abstract:**

*The importance of folk lore is confessed. As it is the wit and wisdom of layman. In Pashto folk literature, it consists a lot of ancient incidents regarding Pashton's history as well as its traditions. There is a gigantic historical events have been illustrated in different genre of Pashto folklore literature, especially in Tappa. The research article is going to through light on those Tappa's which encompass such type of historical and traditional incidents.*

که د انساني ارتقاء د مطالعې په آوان موږ د مذهبي اقدارو سره د تصادم له سوبه د ډارون د نظرئې سره اختلاف وکړو او دا يو طرف ته کړو نو بيا هم موږ په دې خبره منلو مجبوره يو چې اول اول د غارونو او سمستو اموخته انسان د خپل تن پټولو او د خېټې مړوولو دپاره د کوټلو اقداماتو او ذرائعو په لټون کښې، په سوؤنو کاله عمر خوړلی دی. د ژوند د حقائقو نه بې خبره او د احساساتو د ادراک نه محرومه ابتدائي انسان د اجتماعيت په خوند پوهېدلو دپاره په پېړو پېړو صبر کړی دی. خو د تاريخ مطالعه دا خبره په ګوته کوي چې کله وخت په مخه ځي شعوري ارتقاء وده مومي، احساسي ادراکات پخيږي، نو دغه ناخبره انسان د خبر په دنيا کښې قدم ږدي. د تن پټولو دپاره د موجوده ذرايعو نه کار اخلي. د ښکار دپاره د کاڼو ويشتلو په ځای د تيرو کمان ارتقائي صورت حال راوړاندې کيږي. د اومو غوښو ورتولو دپاره د بکرو جنګولو نه د اور بلولو چل زده کوي. د انفراديت په ځای په اجتماعيت کښې د تحفظ احساس سر

* Assist. Prof. Dept. of Pashto, Govt. Degree College, Thana Malakand, Khyber PashtoonKhwa

وهي او ژوند چې تر ډېره وخته د انفرادیت په ترخو تریخ وۀ،د اجتماعیت خوږو ته مېلان کوي۔

هم دغه تمدني سفر د تهذیبي منزل وړومبنۍ وړانګې دي چې په نتیجه کښې ئې دنیا ډېر لوی لوی تهذیبونه ولیدل او د تاریخ پاڼې ئې موږ ته اوس هم هر خدوخال په ګوته کوي۔

د انساني تمدني ژوند باقاعده آغاز د "ارِم نهرین:" یعني موجوده عراق د خاورې نه شوی دی۔ د دریائی فرات او دریائی دجله د لاهي نه جوړه دا زرخېزه زمکه همېشه د خپل زړۀ راښکون له کبله د مختلفو قامونو ، لکه د سمېریانو ، اکادیانو، اشوریانو، ایرانیانو او عربو تر مېنځه د راکاږېل سوب پاتې شوې ده۔

دغه قامونو په خپل خپل وخت کښې د خپلو پېش روانو په تهذیبي زغل کښې د وړاندې کېدلو پوره هڅې کړې دي۔ او په نتیجه کښې ئې د ځانګړتوب او امتیاز شان خامخا حاصل کړی دی۔ دغه امتیاز د اجتماعي ژوند یوه همه ګیره نقشه ده۔ ګویا که د انساني کړۀ وړۀ، ناستې پاستې، ژبه، اغوستن، سملاستن، خوراک څښاک، دودونه دستورونه، مذهبي تهوارونه، رواجونه، سامان ارائش و اسائش، اسلحه، تعمیر، مصوري، خطاطي، موسیقي، شعروشاعري، کتب خانې، شاهي ژوند ، عامي ژوند ، مېلې، عرسونه، رقصونه، ګډاګانې او ذرائع مواصلات وغېره نه چې کومه د ژوند خاکه جوړه شي دغه د تمدن ارتقاء او د تهذیب بنا وي او ددغه واړه شواهدو په رڼا کښې د یو قام د ماضي د تهذیبي پر مختګ او ارتقائي سفر د تګ لارو تعین ښه په اسانه کېدی شي ۔ کوم قامونه چې په دغه ډګر د خپلو موجوده وسائلو په کمک په ځانګړي ډول د ترقۍ بام ته رسېدلي دي هغوي نن هم د خپلو تهذیبي اثارو له سوبه په افتخاري نامو سره یادولی شي ۔ د مثال په ډول ګندهارا تهذیب، یوناني تهذیب، ایراني تهذیب، چیني تهذیب او هندوستاني تهذیب وعلی هذاا لقیاس۔

د تهذيبي ذکر په موقع د تمدن او ثقافت درې واړو د يو بل سره د جخت تړون په وجه څه لږ ډېر وضاحت ضروري ګڼم، کوم چې به لوستونکي د يو اضافي جهنجهټ او ذهني بوج نه خلاص کړي۔

تمدن، تهذيب او ثقافت د ګڼو پوهانو په نزد مترادف او هم معنٰی ټکي دي۔ ستر ليکوال اُستاد سجاد باقر رضوي په دې حقله ليکي۔

*" (I)میں لفظ تہذیب کو انگریزی لفظ کلچر کی مترادف استعمال کر رہا ہوں۔ (II) میں تہذیب کو تمدن (Civilization) کا روحانی پہلو سمجھتا ہوں۔ (III) میری نظر میں تہذیب خود تخلیق بھی ہی اور تخلیق کا ذریعہ بھی۔ اور اب ان مندرجہ بالا تین مفروضوں کو سامنی رکھتی ہوئی اپنی بات اس طرح شروع کرتا ہوں کہ اردو میں مستعمل لفظ کی عربی مادی کی معنی ہیں شاخوں اور پتوں کی کاٹ چھانٹ۔ انگریزی لفظ کلچر بھی کھیتی باڑی اور زمین کی کاشت سی متعلق ہی۔ اس طرح لفظ تہذیب اور کلچر کو ہم معنی تصور کرتی ہوئی یہ کہا جاسکتا ہی کہ ان کی روح عمل تخلیق یا افزائش پیداوار میں مضمر ہی۔ اب چونکہ تمدن (Civilization) شہر میں رہن سہن اور زندگی کرنی کی طرز کا نام ہی اس لئی ہم اسی زندگی کا خارجی اظہار کہہ سکتی ہیں۔"[i]*

د عمرانياتو يا بيا خالص د بشرياتو د مطالعې په آوان په اکثر مواقعو د تمدن او رهائشي و ښائشي ژوند د خاکه کشئ منظر هم دا خبره جوتوي چې د ثقافت او تهذيب زړې له تمدنه زرغونېږي۔ که څۀ لطيف توپير يا بيا څه نازک امتياز ته چرته چا نقاد، محقق يا اديب اشاره کړې وي نو هغه به د مخصوص حالاتو په تناظر کښې وي۔ د مثال په ډول د مېتهيو آرنلډ دا وينا چې " اګر که د موجوده ولايت (انګلېنډ) تمدن ډېر ترقي يافته دی ليکن سره د دې د ايلزبتهـ د وخت ولايت (انګلېنډ) د نن نه ډېر مهذبه ؤ۔ "

موږ ګورو چې تمدني ارتقاء د ثقافتي او تهذيبي ارتقاء هډ دی۔ نو ځکه دا درې واړه اصطلاحات په اصل کښې د عمراني ودې او بشري ارتقاء سره نېغ په نېغه علاقه لري۔ ډاکټر سيد صفدر حسين په خپل کتاب"لکھنو کی تهذيبي ميراث" کښې دغه غوټه لږه نوره هم وېره کړې ده۔

*"امن وامان کی زمانی میں جب کوئی انسانی جماعت اپنی فرائض کا احساس کرتی ہوئی ترقی کی راہ پر گامزن ہوتی ہی تو اسی باہمی میل جول سی بعض ایسی آسائشیں میسر آجاتی ہیں جو انسان کی اجتماعی کوششوں کا نتیجہ ہوتی*

ہی۔ ان آسائشوں، مسرتوں اور ترقیوں کا مجموعہ تمدن کہلاتا ہی۔ گویا تمدن عبارت ہی اس اجتماعی زندگی سی جس میں انسان مل جل کر رہتی ہیں اور اپنی اجتماعی فوائد کی پیش نظر بعض انفرادی حقوق سی دستبردار ہو جاتی ہیں۔ جب اجتماعی آسائشیں ضروریات زندگی کی حدود سی آگی بڑھتی ہیں تو ملکات ذہنی کی استعمال کی وجہ سی معاشرت کی آداب قائم ہوتی ہیں۔ اور ادبی، فلسفیانہ اور دوسری تخیلی مسائل پر بھی انسان کی خیالات دوڑنی لگتی ہیں۔ یہاں سی تمدن، تہذیب کی صورت اختیار کر لیتی ہی۔ اس طور پر تمدن، تہذیب اور ثقافت بڑی حد تک مترادف الفاظ ہیں اور بنی نوع انسان کی ترقی کی مختلف منزلوں کو ظاہر کرتی ہیں۔ "[ii]

د تمدن تهذیب او ثقافت د ذکر کولو په موقع د انساني ژوند د هر اړخ عکس په نظر کښې ساتل پکار وي۔ ځکه چې تمدن د ژوند د آغاز نه تر انجام پورې د یوې داسې دائرې نوم دی چې د دې دائرې څنې د انساني ارتقاء او زوال یوه لکیره هم بهر نۀ شي وتی او بیا ددغه دائرې دننه جوړ شوي انځورونه د انساني کلتور او تهذیب هغه تل عمري تخښې وي د کومو په هنداره کښې چې د راروان وخت انسان د تېر شوي وخت د انسان همه کړۀ وړۀ، جامه پېزار، ناسته پاسته، تعمیر و ترقي، کالي پټري، وسلې، حجرې، جماتونه، ابادۍ، مینه محبت، غم ښادي، اشرغوبل، دوستي دشمني وغېره همه واړه په علامتي ډول ویني ګوري۔ دغه شیان کله کله د شعر و شاعرۍ او لیک په ژبه ځان څرګندوي او یا بیا په نورو علامتونو په پټه خُله د خپلې ماضۍ قیصې د مستقبل کول ته بیانوي۔ د مثال په ډول که د نن کتونکی د تاج محل په لیدو د مینې د یو ناپایاؤه سمندر ژورو ته کوزېږي۔ نو د نور جهان په قبر د لیکلو اشعارو نه د هغې د احساساتو او قلبي رجحان اندازه لګول ورته هم څه ګران نۀ دي۔

هم دغه سوب دی چې زموږ اکثر نقادانو، ماهرینو او هوښیارانو د تهذیب همه ریښې د محبت، اُنس او بشر دوستۍ سره تړلي دي۔ محمد نواز طائر په دې حقله په خپل کتاب ټپه او ژوند کښې په مخ ۱۲۲ لیکلي دي۔

"د انساني تهذیب او تمدن سرګندې نخښې ددۀ پۀ تعمیراتو بالخصوص په هاغه فنونو کښې دي کوم چې د حسِ لطیف نمائندګي کوي او کومې

چې ددۀ د ذات سره تعلق لري ـ هغه ددۀ ناسته پاسته، خبرې اترې او زيست روزګار دی ـ کومې چې ددۀ د فنونو سره تعلق لري ـ هغۀ ئې فنونِ لطيفه يعني ادب، موسيقي او مصوري ده او د کومو اظهار چې ئې د زمکې په سر کولی شي ـ هغۀ ئې تعميرات او باغ و راغ دي ـ دا ټول د انسان د هاغې جذبې مظهر دي چې په عُرفِ عام کښې ورته مينه وائي ـ دا د عشق پېداوار دی ـ د مينې او محبت اثار دي ـ په هر رنګ او نوع کښې چې دي، جرړې او بنياد ئې يو دی ـ دا شعر دی، که تصوير دی او که تعمير دی ټولې د حُسن د تخليق کولو لارې چارې دي ـ" [iii]

تهذيب يا کلتور چې په بنيادي توګه کومو څيزونو ته احتياج لري په هغې کښې مذهبي رجحان، جبلي عادتونه او اجتماعيت دياد ولو وړ دي ـ قامونه کلتوري شعور عموماً په ميراث کښې مومي ـ بيا په دغه کلتوري ترکه کښې د نوښت، زياتي يا کمي باعث د قام راتلونکي وګړي جوړېږي ـ دلته زۀ په يو مثال اکتفا کووم چې د برصغير پاک و هند د مسلمان ملّت خپل تهذيب، تمّدن او ځانګړی کلتور درلود ـ هغوئي د پاکستان مطالبه په دې غرض نۀ کوله چې ګنې دوي تهذيبي او کلتوري وجود نۀ لرلو او د هغې د حصول دپاره ئې د يو جُدا مملکت غوښتنه او مطالبه کوله بلکې هغوئي د خپلو موجودو تهذيبي بېلګو او کلتوري رواياتو د تحفظ، نوښت ودې ارتقاء او احياء له پاره د يو داسې مملکت غوښتنه کوله چې هغه د دوئي د مذهبي عقائدو، ژبې ، رسومو او دودونو د پاسلونې او خوندي کارۍ بوج اوچتولو ته اوږه ورته کړي ـ په نورو ټکو کښې موږ داسې وئيلی شو چې د مسلمان ملّت د مسلمان ثقافت او تهذيب د احياء او بقاء سامان وکړی شي ـ دغه تهذيبي او کلتوري نظريه په قول د سجّاد باقر رضوي اسماني نظريه تهذيب وه ـ دغه اسماني نظريه تهذيب چې په اصل کښې اسلامي نظريه وه د ثقافت او مذهب دواړو د پېوستون، جوړښت او يووالي دپاره د يو وجود او يو قالب د غوښتنې بنياد وګرځېدو چې په نتيجه کښې ئې د اسلامي کلتور بوټی په دغه زړه زمکه کښې د نوي عمل، زرخېزۍ او ودې په هيله ولګولی شو او دغه شان مذهب په ثقافت او ثقافت په مذهب کښې ښکاره شو ـ

د ژبو ماهرين په دې خبره يوه خُله دي چې پښتو يوه ډېره زړه او د اريائي ژبو سره جُخت اړيکې لري ـ د ژبې دا قدامت او زوړوالی په دې خبره دلالت کوي چې پښتون يو قديم او لرغونی قام دی ـ خو موږ وينو چې که يو طرف ته من حيث القوم پښتانۀ د خپل قدامته سره سم د ادبي اثارو څخه محرومه دي نو بل طرف ته د دوي د اجتماعي تهذيبي انځورونو فقدان د دنيا د اثارِقديمه د ماهرينو توّجه ځان پله د راګرځولو جوګه نۀ شوه ـ هسې خو ددې ګڼ وجوهات او علّتونه کېدی شي خو زما په خيال د دوي انفرادي خوښه نا خوښه، بې اتفاقي او ذهني اضطرار او ناقلارۍ داسې سوبونه دي چې دوي ئې چرې هم په قلاره او ټيکاؤ ژوند ته نۀ دي پرېښي او ځکه موږ لکه د نورو تهذيبونو، د دوئي کوټلي کلتوري اثار په طور د دليل نۀ شو وړاندې کولی ـ خو سره ددې زموږ اولسي ادب زموږ تهذيبي او کلتوري ورثه په لاشعوري توګه پړک په پړک او قدم په قدم په دومره سپېځلې انداز کښې په دومره منظم ډول تر موږه رارسولې ده چې ددغې له ترتيبه او تهذيبه موږ د پښتون کلتور د هر نشيبه او هر فرازه په غوره ډول خبرېدی شو ـ

اولسي ادب د يو قام د کلهم کړۀ وړۀ حقيقي امين وي ـ مېرمن سلمیٰ شاهين دغه حقيقت په دې ټکيو کښې په ګوته کوي ـ

> "د قديمي فکر هغه لرغوني اثاثه چې د ټول اولس شريک ميراث وي او د هغوئي د ژوند ترجماني کوي ـ ددې ليکونکي معلوم نۀ وي خو بحيثيت مجموعي د هغوئي ټول ژوند احاطه کوي ـ د هغوئي تهذيب او تمدن يعني خوراک،جامه، ناسته پاسته، طرز فکر، دودونه دستورونه، کلی کلوېغي، عقائد، طرز معاشرت او د کلي وال ژوند هغه اړخونه او روايات څرګندوي چې ګڼ اقدار ئې لا اوس هم زموږ په کلي وال ژوند کښې رواج لري او موجود دي"[iv]

د پښتو اولسي ادب ګڼ اصناف دي چې ځينې پکښې د دنيا د نورو ژبو سره يا خو له هئيت له مخه مشابهت او يا بيا د مضمون له لحاظه يو شان والی لري. هر کله چې ځينې اصناف ئې په هيڅ ډول د نورو ژبو د اولسي ادب سره څه علاقه نۀ لري. په دغه ضمن کښې پښتو ټپه يو داسې نوم دی چې موږ ئې په هر حال د پښتو ژبې خاصه او افتخار ګڼو.

ټپه چې د ګڼو ذهنونو پېداوار او ګڼو خلو وېناوې وي د تنوع له مخه جدا جدا رنګ لري. خو د اصليت، سند او دليل په حېث په کښې د څه قسمه افراط يا تفريط امکان د نيشت برابر وي. مورخ چې کله تاريخ مرتب کوي نو هغه خامخا د خپل جبلته مجبوره وي او د خپل قلبي مېلان په سوب د انصاف تله نېغه نۀ شي ساتلی. خو د مورخ په مقابله کښې د ټپو ويونکي چې د شمېرې له مخه ګڼ وي د زمان او مکان فرق هم لري نو که بيا هم د هغوئي وېنا متشابهه ، مماثله او يو بل ته ورته وي نو ښکاره خبره ده چې دا د حقائقو پله قوي اشاره او رمز ګڼلی شي.

په دې حقله د کتاب "پښتو ټپه او تلميحات" دا وېنا د کاڼي کرښه ده چې،

> " کله چې پښتنو د خپل سياسي حېثيت د بقاء او احيا له پاره توره اوچته کړې ده نو د وخت شاعر يا شاعرۍ دغه کارنامه د شعر په ژبه د زړۀ په تختۍ ليکلې او بيا ئې د سينو نه سينو ته د يو اوږد يون په واسطه زموږ پورې رارسولې ده. په دغه شعر و شاعرۍ کښې د ټپې صنف د نورو شعري اصنافو نه ډېر ګړندی دی. په سياسي، تاريخي او رزميه حوالو سره تلميحاتي ټپې زموږ پېژندګلو د ځينې هاغه واقعاتو سره کوي چې نور تاريخي شواهد او اثار پکښې د افراط يا تفريط ښکار شوي دي او دغه رنګ دغه اثار او شواهد متنازعه شوي دي. ليکن ټپه چې د ګڼو ذهنونو پېداوار دی ، په هيڅ ډول په يو اړخ کېدلی نۀ شي."[۷]

د ټپې د موضوعاتو او تهذيبي عناصرو د ذکر په وخت پروفېسر محمد نواز طائر د ټپې او ژوند اړيکي د يو بل سره د مختلفو جهتونو له مخه په دې ټکيو کښې ترلي دي۔

"دغسې د دين او آئين، عقيدې او ايمان، کائناتو، عناصر اربعه، موسمياتو، جماداتو، نباتاتو، حېواناتو، بنيادمو، د ځاى ځائيګي، د انساني کردار و عمل، قام قامولۍ، زيست روزګار، کور دېرې، مرګ او ژوند، د رشتو خپلوۀ، يارۍ اشنائۍ، د ثقافت او معاشرت، سياست او مدنيت، د ښځو او نرو د جامې و پېزار، ډول سينګار، د عمومي دودونو دستورونو، رسمونو رواجونو، روغ ناروغه، د دوئي د اخلاقو او ادابو، نيتونو او رويو، خپلوۀ او عزيزولو، بيا د دوي د کلي کلويغۍ، غم ښادۍ، برخې بنډې، تپوس پښتنې،ناستې پاستې او د جرګې مرکې سره سره د جنګ جګړو، تورې ټوپکو او په خپلو کښې د راشه درشه، د دوئي د خوراک څښاک، حجرې جمات، ګټې تاوان، پير فقير د سلوک او عرفان نه علاوه د ترس و ترحّم ، د حسن و جمال، د عشق او رومان او د بېلتون او وصال په رنګې ګڼ موضوعات رابېل کړى شول ۔ د بې شماره موضوعاتو په دغه ناپاياوه سمندر د ورګډېدو تکل د "ټپه او ژوند" د سردوباره مطالعې مخه روانه کړه ۔ " [vi]

ټپه کښې د پښتون تهذيب او ثقافت د همه عناصرو او اقدارو ذکر په لويه پېمانه شوى دى ۔ موږ دلته ددې مضمون په مناسبت د ټپې په کېنوس دننه کوم موضوعات سره د غوره مثالونو ځُنې کړي دي ۔ هغۀ د مُشت نمونۀ خروار په مصداق د راتلونکي وخت تحقيق ته د يوه در واه کول دي۔ ګنې د دې ذکر شوۀ عناصرو نه علاوه په سوونو نورې تهذيبي ببېلګې هم د ټپې په چوکاټ دننه وجود لري خو دا وړه غُندې مقاله د دومره طوالت متحّمل کېدى نۀ شوه نو ځکه موږ هم په دغه هومره ذکر بس وکړو ۔ ټپه د پښتون د مزاج سره ژور ګډون لري ۔ ددغه ګډون او امتزاج په حقله د روهي سندرې

نومې کتاب په مقدمه کښې ښاغلي محمد نواز طائر په مخونو ځلېریشتم او پنځیشتم لیکلي دي چې د ټپې مزاج هم ژوندی دی، هم حیاتِ افرین. دا د روانو قافلو ملګرتیا هم کوي او د غرونو په تنګو او ګاګرو کښې د وښو رودنکیو لړبنو نه هم نۀ بیلیږي. دا د شپون، ګډبه، ساربان او غوبه سره هم ملۀ وه او د کلو د زمیدار او ګوډچاري کونکي خوا هم نۀ پرېږدي. دا د ګرمۍ احساس هم کموي او د کرنګونو او یخو واورینو بادونو خلاف د مدافعت تمازت هم پېدا کوي. د کر کروندې او لو لور په موقع دا د ایوې د کیل د زرپاشه فصلونو د ټالو سره د زلمو او پېغلو، زړو او وړو نغمه ریزې ټپې د ژوند زېرې ګرځوي. دا د دوؤ مئینو زړونو ترجماني هم کوي او د لالي او لیلی صفتونه هم. په دوي کښې د عاشق او دلدار د مینې او راز و نیاز خبرې هم شته او د غماز او رېبار د ذکر سره سره د موذي د کردار خوندناکه او دلچسپه ترجماني هم کوي. په پښتو ټپه کښې دا هر څه په داسې حقیقي او فطري رنګ کښې موندلی‌شي چې د شعر و ادب په بل یو صنف کښې ئې ثاني نۀ شي موندی.

ټپه د پښتو د غزل یو انداز هم دی، رجز وحماسه هم ده او ستائینه (قصیده) او مرثیه هم. د دومره تمهید نه پس موږ په دې نتیجه رسو چې د پښتني تهذیب د عناصرو تذکره چې موږ ته په کوم اولسي صنف کښې په کوټلي او جامع انداز کښې په نظر راځي هغه پښتو ټپه ده.

کالي پټري او پښتو ټپه: که یو طرف ته پښتانۀ همېشه د یو جنګجو قام په حېث د دنیا سره د معارفي کولو هڅې شوي دي نو بل پله ددې حقیقت نه هم سترګې نۀ شي پټېدلی، چې که پښتون زلمي د تورې ډال او کارتوس ټوپک اظهار په ویاړ سره کړی دی نو پښتنې پېغلې د باهو او بنګړو، اوړېـ او نتکۍ، پېزوان او پاولۍ او د ټیک او لونګین ذکر په فخر سره کړی او دغه ذکر پښتو ټپې تر موږه رارسولی دی. د پښتنې تهذیب سره تړلي د مختلفو کالو پټرو ذکر ټپې څۀ په دې ډول کړی دی.

ټیک په تندي پېزوان په شونډو
اوړېـ په غاړه د لیلی مزه

کوینډ[vii]

بېګاه مې يار سره وعده وه
د لاس بنګړي مې ورته کور
ويستلي ووند[viii]

باؤو مې وۀ په لاس مې نۀ کړه
اوس به د يار در ته خالي لاسونه
ځمه

پېزوان دې شته نتکۍ دې نشته
لکه چې پېغله د زلمي نه بېله
شينډ[ix]

په پښتو ټپه کښې د لوښو لرګو تذکره:
د هر ژوندي قام د ژوند تېرولو خپل خپل انداز وي۔ عموماً دغه ځانګړی او جُدا انداز د منفرد تهذيبي بېلګو څخه عبارت وي۔ پښتون قام په خپل امروزه ژوند کښې د خوراک څښاک له پاره قسم قسم لوښي لرګي پکارولي دي کوم چې د دوي د تهذيب د پېژندګلو پله په وړومبنيو نخښنو کښې دي۔ په دغه لوښو کښې منګی، پنې، کټ، شال، شړۍ او دغه شان ځينې نور ۔ ددې سره سره د کور، دُرشل، حجره، جماعت، غولی، دېوال، تنور، ايوه، جغ، وغېره داسې شيان دي چې د پښتني تهذيب يو تت شان عکس خامخا جوړوي۔ دغه تذکره موږ د ټپې په خُله اورېدل غواړو۔
کور:

د جانان کور په نمرخاته دی
که په قبله وی ما به مونځ ورته
کوؤنه [x]

شال:

خدایه نری باران پرېږ ګڼ کړی
چې شال ئې لوند شي د شړې
مهتاجه شینه [xi]

چیلم:

که د محلت پېغور مې نۀ وی
مابه لالي له ډک چیلم حجرې له
وړونه [xii]

بام:

په سترګو ړوند شې راته ګوره
په سرو جامو کښې پاس په بام
ولاړه یمه [xiii]

دُرشل:

د زړۀ دُرشلې مې کړېږې شوې
ځکه په سمه لاره ځم خورم
تیندکونه [xiv]

حجره او دُرشل:

ستا د حجرې دُرشل کړه شه
زما د زړهٔ ستنې کړې درپسې
دینه [xv]

کوټه:

کور دې نزدې کوټه دې لرې
ستا د بنګړو شنها مې خوب ته نهٔ
پرېږدینه

دېوال:

د زړهٔ دیوال مې نهٔ ټنګېږي
بېلتون ئې ګټې له چنې ویستلې
دینه [xvi]

غولې:

غولې جارو چراغان وکړئ
د سوات د سره مېلمانه راغلي
دینه

باران وریږي غولې ډنډ شو
قدم زما په قدم ږده راځه دننه [xvii]

تنور:

د تنارۀ لمبه كړه شوه
د شاه ئې وسول د كړو زلفو
سروږه[xviii]

په تنارۀ ولاړې پېغلې
ډوډۍ دې نۀ خورم د ديدن وږى
دې يمه[xix]

كټې:

په كټې كښې پړوكي پروت
يم
په بازوګانو راته ناست دي ستا
غمونږه[xx]

ګودر او منګى:

ګودر ته ځم راپسې راشه
منګي مې دوه دي نرۍ ملا مې
ماتوينږه[xxi]

اوبه:

د اوبو ګوټ كولى نشم
په زړۀ مې نوم د جانان ليک دى
وران به شينږه[xxii]

علاقائي تذكره:

نقل دی چې په هر چا خپل وطن کشمیر دی. هم دغه سوب دی چې څوک چرته پېدا شي ـ ځړپوسې وکړي، لوئی شي، نو هغه خاوره ورته د هر ځائې او هر څیز نه ډېره خوږه او ګرانه وي. ځکه خو د خوشحال خان خټک غوندې په زړۀ کلک او په اعصابو مضبوط سړی هم په دې وېنا مجبور وي چې ـ ـ

د وطن ونې چندڼ اګر دي
خاورې ئې واړه مُشک و عنبر دي

سرائی که نورو وته سنګېړ دی
کاڼي ئې ماته واړه سرۀ زر دي
xxiii

او یا دا چې

ښې دي تر مُشکو د وطن خاورې
تودې اوبه د وطن واورې xxiv

پښتانۀ په هر وخت کښې د خپلې خاورې، خپلې سیمې او خپل چاپېریال نه ځار شوي دي. دغه مېدان که رزمي دی او که بزمي، دوئي د خپلې وفادارۍ، پت، تورې او وفا ثبوت پېش کړی دی. پښتو ټپې د پښتني تهذیب دغه بېلګې هم سینه په سینه تر موږه رارسولي دي. په ټپه کښې د مختلفو علاقو نامې که یو طرف ته د پښتون قام د جغرافیائي حدونو تعيّن کوي، نو بل طرف ته ددغو ځایونو سره د دوي د مینې جوتونه هم کوي او ددغه ځایونو اهمیت هم په ګوته کوي. دلته یو څو هغه ټپې رقم کوم په کومو کښې چې د پښتونخوا د ځینو ځایونو تذکره شوې ده.

کابل:

موري کوچیانو له مې ورکړه
چې تور پیکی مې د کابل شمال
وهینه

تیراۀ:

باران په ستر تیراه وریږي
د لوارګي برخه بادامه ده رابه
شینه[xxv]

کُرمه، پېښور:

پېزوان په کورمه کښې جوړېږي
د پېښور زرګره مات دی شه
لاسونه[xxvi]

کونړ:

ما د کونړ د سینه ځار کړې
زما جانان به پکښې مخ وینځلی
وینه[xxvii]

اباسین:

لږ کوټې کم شه د یار غمه
په څه موده کښې اباسین
کمی‌کوینه[xxviii]

دیر، بونېر:

پېره بابا د بونېر پیره
ځانګه د دیره راوګیره کړې چې
ځونه[xxix]

درال (کالام):

خاونده بیا دې پسرلی کړو
غړانګوره لیلی بیا درال ته
ځینه[xxx]

چترال

چرته لندن چرته چترال دی
بې ننګې زور شوه پیرنګیان
چترال ته ځینه[xxxi]

جندول:

د جندول خان عمراخانه
ډېرې دې کونډې کړې ښېرې
درته کوینه[xxxii]

چارګلۍ (سُدهم رُستم):

چې عجب خان ئې په پهانسۍ
کړو
د چارګلۍ خانان په ځان

ویرېدونہ [xxxiii]

امبیله (بونېر):

د امبېلې ګیدړ ځاربه شو
خوراک ئې څۀ وو د ګوروؤ
لړمنونہ [xxxiv]

سمه او سوات:

جانان په سمه زۀ په سوات یم
سمه دې ورانه شي چې دواړه سوات
ته ځونہ [xxxv]

دغه شان نور هم بلها مثالونه شته دی خو د طوالت له مخې په هم دغه هومره مثالونو اکتفا وکړې شوه۔

توهم پرستي او پښتانۀ:

د علمي فقدان او مذهبي مینې د امېزش نه وده موندونکی وهم یا توهم پرستي په پښتنو کښې ښه ډېره ده۔ دغه اعتقاد کله کله دوئي د خپل ایمان یو جزو لاینفک ګڼي۔ او که چرته څوک ددغه عمل برخلاف خبره وکړي نو د دوئي نه ئې برداشت ډېر ګران شي ۔او خبره تر لرې لرې ورسي۔ ددغه توهم پرستۍ تذکره هم په ټپه کښې ښۀ په خلاص مټ شوې ده د کومې نه چې د پښتنو د تمّدني ژوند یوه تنسته خامخا جوړېږي۔ راځئ چې یو څو مثالونه ئې وګورو۔

په سر مې توره کاغه ګرځي
د جانان شپې ورځې نژدې دي را

به شینه[xxxvi]

جانان په هیڅ نۀ رضا کیږي
د دروغژن مولا دې ورک شي
تعویذونه[xxxvii]

بیا مې د خیال پاڼه ریږي
یا جانان مړ دی یا څه نوی غم
راځینه[xxxviii]

بېګاه مې خوب لیدۀ عالمه
زما د تور لونګین وشلېدل
لړونه[xxxix]

بېګاه مې داسې خوب لیدلو
د سر زړوکی رانه سپو وتښتۀونه[xl]

په پلار مې کوډې تعویذ وکړه
مور مې رضا ده ما به تاله
درکوینه

اشنائي میاشت ده د صفرې
هر څوک چې ویني بلوي ورته

اورونږ ه[xli]

مینه، کرکه، مرثیه او پښتو ټپه:

لکه چې وړاندې په یوه حواله کښې دا خبره شوې ده چې مینه د همه ؤ تخلیقاتو سرچینه ده څکه خو ستر صوفي عبدالرحمان وئیلي

دا جهان دی خدائی له عشقه پیدا
کړی
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا

پښتون د خپل شاعرانه چاپېریال، زرخېزه ذهن او ژوندي زړۀ له سوبه د مینې کولو او مینې ورکولو هر عمل او هر چل نه ښه خبر دی او ښۀ پرې پوهېږي.
د مینې دغه مزی چې په ژوند غزېدلی دی نو د حُسن و جمال د تعریف تذکره هم لري او د ناز و ادا په صفتونو هم نۀ مړېږي. خو چې کله د مرګ او بېلتون ناترسه څپېړه دغه مزیۍشلوي نو بیا د مینې دغه اظهار د مرثیې شکل اختیار کړي. کوم چې په اصل کښې د مینې د ناتمامه او لازواله رشتې د ژوندۍ ساتلو واحده ذریعه وي لکه چې وائي

قبر مې سم ورسره جوړ کړئ
زۀ مرور لالی په مرګ پُخلا
کوۀمه[xlii]

په مینه کښې د وفا، حُسن، جمال، ارمان، بېلتون او جُدائۍ وغېره تذکره یو فطري امر دی. راځئ چې ددې اړخ ننداره د ټپې د روزن نه وکړو

مينه کوؤم ځۀ غلا خو نۀ کوم
خدايا دا ستا بنديان مې ولې
ګرموين ه[xliii]

اشنا مې نمر په غرۀ راخېژي
بېلتون وريځ شوه ورته نيسي
کنډؤن ه[xliv]

بې وفا ياره رب دې واخله
د ژوندانه نه دې په مرګ
خوشحاله يم ه[xlv]

ارمان به هله زما درشي
چې سور پالنګ مې درته خوشې
پاتې شين ه[xlvi]

اشنا د لارې نۀ هېرې
زۀ به د عمر اشنا ځنګه
هېرؤم ه[xlvii]

لږ مې د قبر خواله راشه
د ويرې مۀ مره سوال جواب درته
کوؤمه

د موسمونو تذکره:

د الله تعالی په دې ویړ کائنات کښې ډېرې سیمې داسې دي چې په جغرافیائي لحاظ کالوسر د یخۀ بادونو او واورو سره مخ وي۔ او د ژوند نامه پرې تش تر نامې پورې وي۔ لکه منجمد شمالي او منجمد جنوبي به واخلو ۔ حتٰی چې ددغه سیمې مخصوص مخلوق چې په "اسکیمو" نامه یادیږي ، هم د خوئي بوئي او شکل له مخه د نورو انسانانو ځینې بلها جدائښت او توپیر لري۔ دغه شان د دنیا په مخ ځینې علاقې داسې دي چې هلته د کال نهه میاشتې سخته ګرمي وي د مثال په طور د براعظم افریقې ځینې ملکونه به واخلو ۔ ددې برعکس پښتنو له خدائی پاک داسې چاپېریال او زمکه ورکړې ده چې د موسمونو تنوع او تغیر یو موسم له بله ښائسته کړی دی۔ په دې ګُلهمه سیمه څلور موسمونه خپل اثرات او خصوصیات ثبتوي۔ که اوړی وي او که ژمی، منی وي او که سپرلی، د هر موسم خپل خپل خوند او خپله خپله مزه وي۔ دغه خوند ، مزه، تنوع او تغیر ددې قام په مزاج ژورې اغیزې پریستلي دي ۔ پښتو ټپې ددغه واړه موسمونو تذکره کله په یو رنګ او کله په بل رنګ مخ په وړاندې بوتلی ده ۔ یو څو مثالونه ولولئ۔

خدائی به دې بیا ماته متاز کړي
پسرلی راغی غوټۍ وسپړدل ګلونه

باد د کشمیر په کښې لګیږي
د هاړ غرمه به د لیلی غېږې له وړمه [xlviii]

نوې یاري د خدائی غضب دی
لکه د هاړ غارمه تلی تندی

سېږينه[xlix]

ژمی دې ټول په سمه تېر کړو
په اوړي راغلې سلامت غواړې
ګلونه[l]

باغ په خزان تاله واله شو
بویه چې بیا سپرلی راځي سپړي
ګلونه[li]

د پښتنو د تهذیبي ژوند اهم عنصر پښتون ولي:
پښتو لکه د نورو ژبو محض یوه ژبه نۀ ده بلکې دا د خپل قام د ژوند د تېرولودپاره د یو قانون، ضابطې، دستور Code of conduct درجه هم لري۔ د پښتو د مقررو او متعین شوو قوانینو د ماتولو په نتېجه کښې دغه ماتونکی په څه معنیو کښې د "پښتو د وندر" نه سر وباسي او هم دغه سوب دی چې بیا نور پښتانۀ دغه شان سړي ته په ښه نظر نۀ ګوري۔ او په مختلف بدو او کمترو نامو په ټولنه کښې یادولی شي۔ د پښتونولۍ د ائین غټې خبرې او ضابطې پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک په خپل کتاب، "دُردانې" کښې دا یادې کړې دي۔ ننګ ، غېرت، پت، وفا، ښېګړه، جرګه مرکه، ذیل او هوډ، تیږه، غولی ننواتې، مېلمستیا، سیالي، او پېغور وغېره
دا او دغه شان نور عناصر د پښتو ټپې په چوکاټ دننه ښه ډېر په نظر راځي۔ موږ دلته په یو څو مخصوص مثالونو اکتفا کوؤ۔

بېلتونه کور دې راته ښايه
د زور دې نۀ یم ننواتي له
درځمه[lii]

په پښو معذوره یم تلی نۀ شم
د ننګ په لار په ډانګورو ورسره
ځمه[liii]

پښتو اسانه نۀ ده خلقه
څوک چې پښتو کړي پښتنې ماتې
ګرځوينه[liv]

بېلتونه مخ دې چاته مۀ شه
ماته دې مخ شو د سیالۍ دې
وویستمه[lv]

جانانه ستا د زړۀ دپاره
پړی په غاړه به دې مور او پلار له
ځمه[lvi]

مذهب او پښتانۀ:

پښتانۀ من حيث القوم مسلمانان دي او د اقبال نسيم صيب په قول چې پښتون وي نو مسلمان به وي ـ دا اوس جُدا خبره ده چې په موجوده وخت کښې ځينې پښتانۀ د پښتونولۍ د دغي دائرې ځينې د غاړې غړولو ارتکاب کوي ـ بهر حال په مجموعي حېثيت پښتون، د مذهب سره کلک اړيکې لري او د مونځ، روژې، همدردۍ، زکواة،

حُب الله، حُب رسول، حج، جهاد وغیره یادونه د هم دغه زنځیر کړۍ دي ـ ټپې د پښتني تهذیب دغه بېلګې داسې خوندي کړې دي

اول د خدائی د خدائی ځار شم
دویم ئې ځار شم د رسول د
صفتونو[lvii]

یو وار ثنا د الله ښه ده
نۀ واړه عمر د خوبانو
صفتونه[lviii]

خدایه حبیب زما طبیب کړې
چې په ترتیب مې په زخمونو پټۍ
ږدینه[lix]

مینه د خدائی د رسول ښه ده
دا نورې مینې سرې اور ته
غورزوینه[lx]

اوښکې مانځې دي که بېلمازه
زما په څیرې ګریوان ځي مونځ
پرې کوؤمه[lxi]

څوک چې په صدق مسلمان شي
په اشارو د آسمان نمر
راکوزوينه [lxii]

د مئين زړۀ جمات خانه ده
که مسلمان ئې وران ئې نۀ کړې
دېوالونه [lxiii]

معاشي ستونزې او پښتو ټپه:
د يو قام د سوکالۍ، خوشحالۍ او ترقۍ اندازه د هغوئي د معاشي هموارو يا ناهموارو څخه په اسانه لګي ـ په تاريخي تناظر کښې د پښتون قام د معيشت مطالعه دا خبره په ګوته کوي چې په عمومي ډول د پښتون ژوند د سختۍ او سخت کوشۍ ځينې عبارت دی ـ زما په نظر کښې د پښتون د معاشي بدحالۍ لويه وجه د دوئي علمي کمی او اضطراري کيفيت دی ـ ددغه کيفيت تذکره موږ ته د پښتو فولکلوري ادب کښې ځای په ځای په نظر راځي ـ پښتو ټپې دغه کېفيت د مختلفو زاويو ځينې کتلی او تذکره کړې دی ـ دغه ذکر کله د لالي د خُلې ليلی ته د خپلو مجبورو له سوبه د کوچ او مسافرۍ د جواز لټولو دپاره شوی دی او کله د ليلی د قلبي رجحان د جوتونې وجوهات نمائي ـ دغه شان د کُنډو يتيمانو د قلبي کيفيت اظهار هم د ټپې په ائينه کښې ښکاريږي ـ
د مثال په طور ـــ

په مرګ دې نۀ مري جانان ګران
دی
بده نيستي ده په نېستۍ دې

بدرنګ شینه [lxiv]

د بې ارضۍ کچکوله مات شي
چې در په در دې ګرځووم تش دې
راوړمه [lxv]

زما دې څه نصيب کړو خدايا
په سر منګی په غېږ کښې ډکي
ټولومه [lxvi]

د ملېزو بده دستوره
په غوړ څونډي به د غنمو ګېډۍ
وړینه [lxvii]

زما نه ختبه غنم واخله
په څانګه مۀ کړه تر غرمې پورې
لوۀنه [lxviii]

غنم تيار موسم د لو دی
جانان به لو کړي زۀ به وږي
ټولومۀ

جغ په اوږه چوکه په لاس کښې
زۀ د بېلتون ايوې ترم ازغي

کرم ہ l xi x

متفرق تهذيبي ببلګې:
پرته له دغه ذکر شويو عناصرو ځينې نور خوارهٔ وارهٔ تهذيبي توکي د ټپې په کېنوس دننه وجود لري چې د هغوئي تعلق صرف او صرف د پښتون ژوند سره کېدی شي ـ د مثال په توګه

ليلى د برې باندې راغله
په تور څادر ئې شوملو لارې کړي
دينه

دا ټپه يو خاص حالت او منظر ته اشاره کوي چې په عمومي ډول د غرئيزو سيمو پښتانهٔ د موسم مطابق د زيست ځايونه بدلوي رابدلوي ـ په ګرمو کښې يخو باندو ته خېژي او په يخنو کښې هوارو ته راکوزېږي ـ دغه شان د چا محبوبې د خلې نه وتلې دا ټپه ـ

تر نيمې شپې پورې رانغلې
په ما دې سپي په مازيګر ترلي
وونه

که يو طرف ته د يو ناقلاره زړهٔ ناقلارتيا په ګوته کوي نو بل پلؤ ته د يوې تهذيبي بيلګې په ډول يو مخصوص منظر او د ژوند يو نااشنا انځور هم جوړوي ـ
په پښتنه ټولنه کښې زنانه ذات د يوې بې سواده طبقې او کمزورې صنف په ډول پېش کړی شوی دی ـ هم دغه د کمترۍ احساس صنف نازک ته په خپله هم شوی دی چې د اظهار دپاره هغوئي د ټپې غونډې د ورکې لارې نه ښهٔ په اخلاص او ډاډه زړهٔ کار

اخستی دی۔ ځکه چې په داسې کولو سره مار هم وژلی شوی او لاټۍ هم سلامته پاتې شوې ده۔

ستا به زما نه ګیله کېږي
زۀ په ولقه د زورورو خلقو يمه

د خپل نصيب سره مې جنګ دی
لکه اوبه چې څوک په لوړه خېژوينه

ما د تدبير قلم ته لاس کړو
تقدير پلۀ د خندا خُلې ته ونيۀنه[xx]

اسم اعظم به په ځان پوک کړم
پورته به لاړ شم چې ليک وران د تقدير کړمه[xxi]

ځينې تهوارونه ، غونډې او دودونه دستورونه هم په پښتو ټپه کښې په ځانګړي ډول ياد شوي دي لکه۔

اختر ته ځکه خوشحالېږم
چې مسافر جانان مې کلي ته

راځينه[lxxii]

په آخر کښې يو څو داسې ټپې درج کوؤم چې تعلق ئې د غم، خوشحالۍ، واده، زور ظلم، آزادۍ، طالب، مُلا، ملنګ، جنازه، وفا او دغه شان نورو موضوعاتو سره وي، کوم چې نېغ په نېغه د پښتون کلتور عکاسي کوي.

پيشترى پوخ کړه ما مېلمه کړه
په دې بهانه به مشغولا سره
کوؤنه[lxxiii]

خوشحالي تهٔ کړه، غم به زهٔ کړم
زما زړګى د غم عادت دى نهٔ به
چوينه[lxxiv]

غم دې د غم سره سم نهٔ دى
مينه دې لا په پرهر مالګې
دوړوينه[lxxv]

اسمان ته ګورم اسمان شين دى
په ما وريږي د غمونو
بارانونه[lxxvi]

د جانان دې ظلم ته ګوره
هم مې وهي هم مې ژړا ته نهٔ

پرېږدېنه lxxvii

لنډه دا چې ټپې د پښتون کلتور او تهذيبي عناصرو خوندي کارې په ښه ډول کړې ده. د کومې د مطالعې نۀ چې د پښتون تهذيب په زړۀ پورې انځور جوړېږي شي. دا خبره يادول خپله وظيفه ګڼم چې کومو ټپو ته حواله نۀ ده ورکړې شوې نو دا زما د ياداشتو سره تعلق لري. خو سره ددې ما بيا هم د يو څېړنکار په حېث ددې ماخذ په ګوته کولو دپاره ګڼ کتابونه پاڼې په پاڼې وکتل خو ما ته چرته هم دغه ټپې په نظر رانغلې.

## حوالې

[i] سجاد باقر، رضوی، تہذیب و تخلیق، لاہور، اشاعت اول، 1966ء، ص:66

[ii] ڈاکٹر سید صفدر حسین، لکھنو کی تہذیبی میراث، بارگاہ ادب لاہور، 1975ء، ص:123

[iii] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور. ۲۰۱۲ء، مخ: ۱۲۲

[iv] سلمیٰ شاهين، روهي سندرې، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۸۲

[v] جهان عالم ډاکټر، پښتو ټپه او تلميحات، پښتو اکېډمي کوټه، ۲۰۱۳ء، مخ:۱۸۲

[vi] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخونه: ۲۱، ۲۲

[vii] سلمیٰ شاهين، روهي سندرې (جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۷۹

[viii] هم دغه، مخ:۹۴

[ix] سلمیٰ شاهين، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۱۵۸، ۱۵۶

[x] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (جلد دویم)، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۳۰۵

[xi] هم دغه، مخ: ۱۶۷

[xii] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۲۲۴

[xiii] هم دغه، مخ: ۱۳۵

[xiv] هم دغه، مخ: ۳۱۹

[xv] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، سرائی نورنګ بنو، پښتو ادبي مرکز، س ن، مخ: ۵۰

[xvi] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۳۱۹

[xvii] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، محکمه ثقافت حکومت خېبر پښتونخوا، ۲۰۱۲ء، مخ: ۲۲۵

[xviii] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۳۰۱

[xix] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ: ۲۴۱

[xx] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۱۴۱

[xxi] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول دویم)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۹۴ء، مخونه: ۲۲۵

[xxii] هم دغه، مخ: ۱۷۹

[xxiii] خټک، خوشحال خان، دیوان خوشحال خان خټک، مردان، ۱۹۲۸ء، مخ: ۵۸۳

[xxiv] حنیف خلیل، پروفېسر، د خوشحال مطالعه، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، س، ن، مخ: ۳۵۰

[xxv] سلمٰی شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخونه: ۸۲

[xxvi] هم دغه، مخ: ۱۵۶

[xxvii] هم دغه، مخ: ۵۸۸

[xxviii] هم دغه، مخ: ۵۷۵

[xxix] جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلمیحات، کوئټه، پښتو اکېډمي بلوچستان، ۲۰۱۳ء، مخ: ۱۵۷
[xxx] هم دغه، مخ: ۲۳۳
[xxxi] هم دغه، مخ: ۱۸۶
[xxxii] هم دغه، مخ: ۱۸۵
[xxxiii] هم دغه، مخ: ۲۳۱
[xxxiv] هم دغه، مخ: ۱۹۰
[xxxv] هم دغه، مخ: ۲۲۶
[xxxvi] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۳۵
[xxxvii] هم دغه، مخ: ۱۸۴
[xxxviii] هم دغه، مخ: ۹۳
[xxxix] هم دغه، مخ: ۹۵
[xl] هم دغه، مخ: ۹۵
[xli] هم دغه، مخ: ۷۴
[xlii] هم دغه، مخ: ۵۲۴
[xliii] جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلمیحات، کوئټه، پښتو اکېډمي بلوچستان، ۲۰۱۳ء، مخ: ۴۵
[xliv] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (اول جلد)، پېښور، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۷۳
[xlv] هم دغه، مخ: ۱۰۶
[xlvi] هم دغه، مخ: ۶۶
[xlvii] هم دغه، مخ: ۷۱
[xlviii] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، سرائی نورنګ بنو، پښتو ادبي مرکز، س ن، مخ: ۱۳۸
[xlix] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ: ۲۷۲
[l] هم دغه، مخ: ۲۷۲
[li] هم دغه، مخ: ۲۷۱
[lii] هم دغه، مخ: ۳۲۷

[liii] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې(جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۱۹
[liv] هم دغه، مخ: ۱۱۴
[lv] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ: ۳۲۷
[lvi] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې(جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۹۳
[lvii] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ:۲۴
[lviii] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (جلد دويم)، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۲۴۵
[lix] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې(جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۲۵۴
[lx] هم دغه، مخ: ۶۱۱
[lxi] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (جلد دويم)، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۵۱
[lxii] محمد نواز طائر، روهي ثقافت ټپه او ژوند، پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ:۷۴
[lxiii] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، سرائی نورنګ بنو، پښتو ادبي مرکز، س ن، مخ: ۵۴
[lxiv] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې(جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۴۹
[lxv] هم دغه، مخ: ۲۹۷
[lxvi] جهان عالم، ډاکټر، پښتو ټپه او تلميحات، کوئټه، پښتو اکېډمي بلوچستان، ۲۰۱۳ء، مخ: ۲۳۳
[lxvii] هم دغه، مخ: ۱۱۲
[lxviii] هم دغه، مخ: ۱۳۵
[lxix] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۱۹۷
[lxx] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې (جلد دويم)، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۴ء، مخ: ۲۲۷
[lxxi] سلمیٰ شاهین، روهي سندرې(جلد اول)، پېښور، پښتو اکېډمي، ۱۹۸۴ء، مخ: ۶۸
[lxxii] هم دغه، مخ: ۶۳
[lxxiii] هم دغه، مخ: ۱۵۸
[lxxiv] هم دغه، مخ: ۲۶۷
[lxxv] هم دغه، مخ: ۵۱۷
[lxxvi] هم دغه، مخ: ۶۸
[lxxvii] هم دغه، مخ: ۳۰۴